بسم الله الرحمن الرحيم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بیه میراث چې اهلبیتو(ع) له ځانه وروسته پریخی دی او د هغوي لارویانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب یوه کامله بیلګه ده چې د اسلامي علومو بیلا بیلې څانګې لري. او د علم ډیر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بیلا بیلو سوالونو، شبهو فکري بې لاریو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پیړیو کې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالۍ غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري یې اختسې ده ـ د رسالت له حریمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندې شوی ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو همیشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبیتو نړیواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبیت (ع) د ریښتني لارویانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې همیشه دې تهمتونو لرې کولو ته تیار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانی د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبیتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، ليکوالانو او د هغه کسانو چې د اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقيقت د چينې ترږو ته يې وړاندې کړي.

دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليکل شوې کتابونه او تحقيقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقيقت د لټوونکو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کيدو دی، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفې غوندې پريخي دي غوږ کيدي.

هيله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قيمتي وړانديزونو او ښو نيوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پيغمبر(ص) دين په خپرونې کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدايه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشريف) د سوري لاندې نور توفيق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحيم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې يې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کيدو کې يې له مونږ سره مرسته کړې، په بيله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبيتو(ع) د نړيوالې غونډې

فرهنګي معاونت

# پنځم امام حضرت امام محمد باقر (علیه السلام)

پنځم امام محمد باقر(علیه السلام) د هجرت په اوه پنځوسم کال د رجب د میاشتې په لومړۍ نیټه چې د جمعې ورځ وه په مدینه کې دنیا ته مخ سرګند کړو [1]، نوم یې "محمد" کنیت ابو جعفر او لقب یې باقرالعلوم (یعنې د علمونو پرانستونکی او سپړونکی) دی.

د امام محمد باقر(علیه السلام) شجره له مور او پلار دواړو لخوا پیغمبر(ص) حضرت علي (علیه السلام) او بي بي فاطمې(ع) ته رسیږي. ځکه چې پلار یې امام زین العابدین دی چې د امام حسین علیه السلام ځوي دی او مور یې بي بي ام

1. مصباح المجتهد شیخ طوسي ص557

عبدالله [2] ده چې د امام حسن مجتبي (علیه السلام) لور ده. د امام باقر(علیه السلام) عظمت او لوړاوی د هر چا په خله ؤ او چې د هاشمیانو، علویانو او فاطمیانو د عظمتونو او لوړاویو خبره به شوه نو امام باقر علیه السلام به د دوي ټولو د سپیڅلتیا ، میړانتوب او بزرګۍ په توګه پیژندل کیدۀ اوټولو به ورته هاشمي علوي او فاطمي ویل.

د امام باقر علیه السلام ځنې صفتونه رښتیاوالی، نرمه او زړۀ رانښکونکې څیره او سخاوت دی. د دوي د شرافت او بزرګۍ یو اړخ له دې قیصې څرګندیږي: د خداي ګران رسول حضرت محمد(ص) خپل یو پرهیزګار صحابي جابر عبدالله انصاري ته وفرمایل ای جابره ته به ډیر عمر کوې، تر دې چې زما نمسی محمد بن علي بن حسین بن علي بن ابي طالب(علیهم السلام) به ګورې چې نوم یې په تورات کې باقر دی نو بیا زما سلام هغه ته ورسوه. پیغمبر(ص) وفات شو. حضرت جابر(رض) لوېې عمر وکړو او یوه ورځ د امام زین العابدین(ع) کور ته راغی، امام باقر یې چې هغه وخت یو ماشوم بچی ؤ ولید. حضرت جابر ورته وویل دیخوا راشه. هغه رانزدې شو ،بیا ورته جابر وویل اوس لاړ شه. امام ستون

2. حضرت امام جعفر صادق(ع) د "ام عبدالله" په باره کې فرمایي هغه یوه ایمانداه، پرهیزګاره او نیکه بي بي وه تواریخ النبي والال تستري ص47.

شو. جابر د هغه اندامونه او د تګ طريقه وليده او وې ويل په خداي قسم دا بچی بلکل د پيغمبر(ص) هنداره ده. بيا يې له امام سجاده وپوښتل دا څوک دی؟ امام سجاد(ع) وفرمايل: زما ځوي محمد باقر(ع) دی. جابر پاڅيده او د امام باقر عليه السلام پښې يې ښکل کړې او وې ويل: له تا ځار شم ای د پيغمبر(ص) لمسيه د خداي د رسول سلام قبول کړه. هغه تا ته سلام راليږلی دی. د امام باقر(ع) سترګې له اوښکو ډکې شوې او وې فرمايل: د خداي په رسول(ص) دې درود او سلام وي او په تا هم ای جابره چې د هغوي سلام دې ماته راورساوۀ.[3]

## د امام باقر عليه السلام علم او پوهه

د امام باقر عليه السلام علم هم د نورو امامانو په شان له وحي سرچينه اخستې وه. هغوي له استاده علم نه ؤ زده کړی او د انسانانو په مکتب او ښوونځي کې يې زده کړه نه وه کړې. جابر بن عبدالله به امام باقر(ع) ته راتللو او له هغه حضرته به يې علم زده کوو او تل به يې ويل ای د علمونو سپړوونکيه! ګواهي ورکوم چې تا په وړوکوالي کې هم خداي علم لرلو.[4]

3. امالي شيخ صدوق ص211.
4. علل الشرايع شيخ صدوق ج 1 ص 222.

عبدالله بن عطا مکي(رح) وایي: پوهان او عالمان مې د هیچا په مخکښې دومره وارۀ او سر ټیټي نه دی لیدلي څومره به چې د امام باقر علیه السلام په وړاندې داسې ؤ لکه د لویې استاد په وړاندې ماشوم زده کوونکی.[5]

د امام باقر علیه السلام اسماني او علمي شخصیت دومره ستر ؤ چې جعفر بن یزیدجعفي به له هغه څخه د روایت په وخت داسې ویل: د اوصیاوو وصي او د انبیاوو د علمونو وارث محمد بن علي بن حسین علیه السلام داسې وایي.[6]

یو سړي له عبدالله عمر څخه د یوې مسئلې پوښتنه وکړه او هغه یې په ځواب کې پاتې راغی، پوښتنه کوونکي ته یې وویل چې له دې ماشومه (امام باقر علیه السلام) پوښتنه وکړه. هغه سړي له امامه وپوښتل او امام ورته قانع کوونکی ځواب ورکړو. هغه او عبدالله عمر یې هم له ځوابه خبر کړو عبدالله وویل: دا داسې کورنۍ ده چې علم یې خداي ورکړی او خدایي دی.

یو راوي وایي په کوفه کې مې یوې ښځې ته قران ښودلو، یوه ورځ مې ورسره ټوکه وکړه او بیا د امام باقر(ع) کتنې ته ورغلم امام وفرمایل څوک چې حتی په پټه هم ګناه وکړي خداي ورته توجه او پام نه کوي، هغې ښځې ته دې څه ووې؟

5. ارشاد شیخ مفید ص246
6. ارشاد شیخ مفید ص246.

له شرمه مې مخ پټ کړو او توبه مې وکړه امام وفرمایل: بیا یې تکرار نه کړې.[7]

## د امام باقر علیه السلام اخلاق

د شام یو سړی په مدینه کې اوسیدو او امام کره به ډیر راتللو او ورته به یې ویل د زمکې په مخ ستا سره تر ټولو زیاته کینه او دښمني لرم او تر ټولو زیات ستا د کورنۍ دښمن یم. او عقیده مې دا ده چې د خداي رسول(ص) او امیرالمؤمنین اطاعت ستا په دښمنۍ کې دی، که ستا کور ته راځم نو یوازې د دې لپاره چې ته یو ادیب او خوش بیانه سړی یې. امام به هغه سره ښه نرمي کوله او په نرمۍ به یې ورسره خبرې کولې. څه موده پس شامي سړی ناروغ شو او چې له ژونده ناامیده شو نو وصیت یې وکړو چې که مړ شو نو امام باقر علیه السلام دې د هغه د جنازې نموځ وکړي. نیمه شپه شوه او د هغه د کورنۍ ته پته ولګیده چې مړ شوی دی، سهار وختي د هغه وصي جمات ته راغی او امام باقر علیه السلام یې ولید چې مونځ یې ختم کړی او په دعا لګیا دی. عرض یې وکړو: هغه شامي مړ شوی او غوښتي یې دي چې د جنازی نموځ پرې تاسو وکړئ. امام وفرمایل: هغه مړ نه دی تاسو صبر وکړئ

7. بحار الانوار ج46 ص247.

چې زه درشم، امام پاڅید اودس یې تازه کړو دوه رکعته مونځ یې وکړو او لاسونه یې دعا ته پورته کړل بیا سجدې ته لاړ او د نمر ترراختلو پورې په سجده کې پاتې شو. هله د شامي کور ته راغی د هغه په بالښت کښیناست او اواز یې ورته وکړو، هغه ځواب ورکړو. امام هغه راکښینولو او دیوال ته یې تکیه کړو، شربت یې وغوښته او هغه ته یې ورکړو بیا یې خپلوانو ته وویل چې یخ خوراکونه ورله ورکوئ او پخپله راستون شو. څو ورځې پس شامي بشپړ روغ شو. امام ته راغی او وې ویل: ګواهي ورکوم چې ته په خلقو د خداي حجت یې.[8]

د هغه وخت یو صوفي محمد بن منکدر وایي: د سختې ګرمۍ په ورځ له مدینې ووتم، امام باقر علیه السلام مې ولید چې له خپلو دوو ملګرو یا مریانو سره پټي ته روان دی له ځان سره مې وویل د قریشو یو دومره لوي کس په داسې ګرمۍ کې په پیسو پسې لیواله دی، پکار ده چې نصیحت ورته وکړم. نزدې ورغلم، سلام مې وکړو، امام چې په خولو کې ډوب ؤ، زما سلام ته ځواب ووېې. ورته مې وویل خداي دې روغ لره ایا ستا غوندې کس په دې ګرمۍ او داسې حال کې په دنیا پسې دی، که په داسې وخت مړ شې نو څه به کوې؟ وې فرمایل: په خداي قسم که مړ شم نو د خداي په اطاعت کې مړ شوی یم، ځکه چې زۀ په دې کار سره ځان له تا او ستا

8. امالي شیخ طوسي ص261.

غوندې له نورو کسانو بې نیازه کوم، نو له مرګه هله ویره پکار ده چې بنده په ګناه کې مړ شي ومې ویل: د خداي رحمت دې وي په تا، ما وې چې زه تا ته نصیحت وکړم خو تا ما ته نصیحت وکړو او زه دې خبر کړم.

## امام باقر علیه السلام او امویان

امام که په کور کې ناست وي او که په ټولنه کې، د امامت په مقام کې یې هیڅ کمی نه راځي، ځکه چې امامت یو خدایي مقام دی او خلق پخپله خوښه امام نشي ټاکلی.

غاصبانو او تیري ګرو تل د امام باقر علیه السلام له لوي مقام سره حسد او شک کولو، او په هرې وسیلې سره یې د حکومت او خلافت چې د امام حق دی، د غصبولو او نیولو لپاره کوششونه کول، او په دې لاره کې به یې هر ډول جرم او خیانت هم کاوه.

د امام باقر علیه السلام د امامتې دوران د اموي باچا هشام بن عبدالملک له ظالمانه حکومت سره په یو وخت ؤ، او هشام او نور امویان ښه پوهیدل چې که ظاهري حکومت یې په ظلم او زیاتي سره غصب کړی دی خو په زړونو باندې حکومت د پیغمبر(ص) له کورنۍ هیڅکله نه شي غصبولی. د ګرانو امامانو معنوي عظمت دومره زیات ؤ چې کله کله به

دښمنان او غاصبان پخپله د هغوي په وړاندې مرعوبه پاتې کيدل او زنګون به يې وهلو.

يو کال هشام حج ته راغلی ؤ او امام باقر عليه السلام او امام صادق(ع) هم په حجيانو کې شامل ؤو. يوه ورځ امام جعفر صادق(ع) د حج عظيمې او سترې غونډې ته په وينا کې وويل: ثنا د هغه خداي ده چې محمد(ص) يې رېښتنی پيغمبر کړ او مونږ يې د هغوي په برکت عزتمن کړو، نو مونږ په مخلوقاتو کې د خداي پاک غوره شوي کسان او جانشينان يو. کامياب او نيکمرغه هغه ځوک دي چې زمونږ منوونکي دي او بد مرغه دی هغه کس چې له مونږ سره تعصب او دښمني لري.

امام صادق(ع) څه موده پس وفرمايل که زمونږ له دې وينا هشام خبر شو او چې کله دمشق ته لاړو او مونږ هم مدينې ته ستانه شو نو په مدينې کې يې خپل ګورنر ته وويل چې ما او پلار مې دمشق ته ورولېږي. مونږ دمشق ته لاړو او هشام درې ورځې مونږ ته لفټ رانه کړو. په ځلورمه ورځ يې دربار ته ورغلو. هشام په تخت ناست ؤ او درباريانو يې د نخښې ويشتلو او غشو مقابله کوله. هشام مې پلار ته په نوم سره اواز وکړو او وې ويل چې د خپلې قبيلې له مشرانو سره دې سيالي وکړه، پلار مې (امام محمد باقر عليه السلام) وفرمايل: زۀ بوډا شوی يم او د غشي ويشتلو وخت مې تېر شوی دی. هشام ټينګار وکړو او هغوي ته يې قسم ورکړو چې

ضرور دا کار وکړي. د بني اميه يو بوډا ته يې ووې چې لينده ورته ورکړه پلار مې لينده واخسته او غشی يې ګوزار کړو، لومړی غشی د نخښې په منځ ولګيدۀ، بيا يې دويم غشی وويشت او هغه د لومړي غشي لپاسه ښخ شو او لومړی غشی يې وشلولو بيا يې دريم، څلورم او حتی نهم غشی وويشتو او ټول د يو بل لپاسه ولګيدل، کتونکو د واه او افرين چغې جوړې کړې، هشام بې قراره شو او وې ويل شاباش ابا جعفر ته د عربو او عجمو د غشي ويشتونکو مشر يې، څنګه خيال کوې چې د غشو وخت دې تېر شوی دی... هماغه وخت يې په زړۀ کې زما د پلار د شهيدولو نيت وکړ، سر يې ټيټ کړو او په سوچ کې شو کله چې ډير وخت تېر شو او مونږ ته يې څه ونه وې نو پلار مې غصه شو او اسمان ته يې وکتل، هشام د هغوي په غصې پوه شو، امام باقر عليه السلام يې له ځان سره ښي لاس ته په تخت کښينولو او زه يې د هغه ښي لاس ته، بيا يې ورسره خبرې پيل کړې او وې ويل: په قريشو کې چې ستا غوندې کسان موجود وي نو هغو په عربو او عجمو فخر کوي، افرين. دا دومره ښه نخښه ويشتل دې له چا زده کړي وو؟ پلار مې وفرمايل: تا ته پته ده چې د مدينې خلق د نخښو ويشتلو مقابلې کوي، ما په ځوانې کې ډيره لګه موده دا کار کړی ؤ او بيا مې تراوسه نه دی کړی. هشام وويل: تر څو چې ما ليدلي دي تراوسه مو ستا هومره ماهر کس نه دی ليدلی او ګمان نه کوم چې د دنيا په مخ ستا غوندې ماهر غشې

ويشتونکی موجود وي، ښه نو دا ځوې جعفر دې هم داسې ماهر دی؟ امام وفرمایل کمال او تمام (بشپړوالی) مونږ ته په وراثت کې راغلی دی. هماغه کمال او بشپړتيا چې خداي په خپل ګران رسول(ص) نازله کړې ده چې فرمایي:

اَلیَوم اَکمَلتُ لکُم دِینکم و اتممت علیکم نعمتي و رضيتُ لَکُمُ الاسلام ديناً [9] (نن ورځ مې ستاسو لپاره دين کامل کړو، او په تاسو مې خپل نعمتونه بشپړ او تمام کړل او تاسو ته مې اسلام دين غوره کړ).

نو زمکه له داسې کس هيڅکله خالي نه پاتی کيږي چې په دې کارونو ماهر وي. د دغو خبرو په اوريدلو سره د هشام سترګې کږاغې راووتې او مخ يې له غصې سور شو. يوه شيبه يې سر ټيټ کړو او سوچ يې وکړو او وي ويل ولې مونږ دواړه د عبد مناف له نسله نه يو څۀ؟ نو بس په نسبت کې برابر يو. امام وفرمايل: هو دواړه له يو نسله يو خو خداي پاک مونږ ته خاصې ځانګړتياوې راکړي دي چې نورو ته يې نه دي ورکړې، هشام تپوس وکړو چې ولې خداي پاک پيغمبر(ص) د دنيا په ټولو تورو او سپينو د عبدمناف له کورنۍ غوره نه کړه؟ نو بيا تاسو له کومه دا خصوصيات لرئ؟ امام بې ځنډه وفرمايل: خداي پاک په قران کې خپل رسول ته فرمايي: خپله ژبه تر هغې د قران لوستلو لپاره مه ږکوه چې درته حکم نه وي

9. سوره مائده ايت 3.

شوي.[10] هغه پیغمبر(ص) چې له دې ایت سره سم یې ژبه د خداي تابعه ده مونږ ته داسې خصوصیات راکړي چې نورو ته یې نه دي ورکړي. او ځکه به یې خپل ورور علي ته داسې رازونه ویل چې نورو ته یې نه دي ورکړي. خداي پاک په دې حقله فرمايي:

و تعيها اذن واعيه[11](هغه څه چې تاته وحي کيږي او یو اوریدونکی غوږ یې اخلي).

د خداي رسول(ص) علي عليه السلام ته وفرمایل: له خدایه یې وغوښتل چې هغه اوریدونکی غوږ ستا وي. همداراز حضرت علي (عليه السلام) په کوفه کې وفرمایل: د خداي رسول ما ته د علم زر ورونه خلاص کړل چې له هر وره زر زر نور خلاصیږي او همداراز "انا مدینه العلم و علي بابها" زهٔ د علم ښار یم او علي یې دروازه ده"

نو لکه څنګه چې خداي پاک رسول (ص) ته کمالونه ورکړل ګران رسول(ص) هم حضرت علي ته ځینې داسې څیزونه ورزده کړل چې نورو ته یې نه دي ښودلی، او زمونږ علم هم له همدغې ځلاندې او ډکې چینې دی اویوازې مونږ یې وارثان یو، نه بل څوک. هشام وویل حضرت علي(ع) د غیبو د علم ادعا لرله، حال دا چې خداي پاک هیڅوک له غیبو نه دي خبر

10. سوره القيامه ايت16.

11. سوره الحاقه ايت 12.

کړي. پلار مې ورته وفرمايل: خداي پاک په خپل رسول(ص) داسې کتاب نازل کړو چې په هغې کې د تېر وخت او راتلونکي وخت (تر قيامته پورې) هر څه بيان شوي دي ځکه چې هماغه کتاب فرمايي: "وَ نَزَلنا عليکَ الکِتابَ تبياناً لکل شئ"[12] (مونږ په تا داسې کتاب نازل کړو چې د ټولو څيزونو بيانوونکی دی)

په بل ځاي کې فرمايي: په دې کتاب کې مو هيڅ پرې نه ښودل[13]او خداي پاک پيغمبر(ص) ته حکم ورکړو چې خپل رازونه علي(ع) ته وښايي. او پيغمبر(ص) به هم خپل امت ته فرمايل علي عليه السلام په قضاوت او فيصلې کې تر تاسو ټولو هوښيار دی. هشام غلی پاتې شو او امام له درباره ووتو.

## امام له مخالفانو سره احتجاج کوي

عبدالله بن نافع د حضرت علي (عليه السلام) له دښمنانو څخه ؤ او ويل به يې چې که د زمکې په مخ څوک ما قائل کړي چې نهراوان د خوارجو په وژلو کې حضرت علي (عليه السلام) په حقه ؤ نو زه به يې ومنم. عبدالله ته چا وويې چې ستا په خيال د حضرت علي (عليه السلام) بچي هم تا نشي قانع

12. سوره نحل ايت 89.
13. سوره انعام ايت 38.

کولی. عبدالله وویل: د حضرت علي (علیه السلام) په بچیو کې هم څوک پوه او عالم شته څه؟ عبدالله ته وویل شول چې دا پخپله ستا په ناپوهۍ لوي دلیل دی ځکه چې ممکنه نه ده د حضرت علي (علیه السلام) په نسل کې څوک پوه او عالم نه وي . عبدالله وویل نو بیا په دې زمانه کې د هغوي عالم او پوه څوک دی؟ خلقو ورته امام باقر علیه السلام وښودلو او هغه له خپلو ملګرو سره مدینې ته له امام سره د کتنې لپاره راغی. امام خپل یو مریې واستوه چې هغه راولي او سبا ته یې امام ته حاضر کړي.

سبا سهار عبدالله سره له ملګرو د امام باقر(ع) محفل ته راغی امام(ع) هم د مهاجرو او انصارو بچي او پاتې کسان راوغوښتل او چې کله ټول راغونډ شول امام وفرمایل: ثنا، صفت او مننه د هغه خداي چې د زمان مکان او څرنګوالي پیدا کوونکی دی، حمد دې وي د هغه خداي چې نه ورله دروند خوب ورځي او نه سپک او په زمکه او اسمانونو کې هر څه د هغه دي، ګواهي ورکوم چې له هغه پرته بل خداي نیشته او حضرت محمد(ص) د هغه پیغمبر او رسول دی. شکر د هغه خداي چې په نبوت سره یې مونږ عزتمند کړو او ولایت سره یې خاص کړو، ای د مهاجرو او انصارو بچیو! که چاته هم د حضرت علي (علیه السلام) په فضیلت او لوړاوي کې کوم حدیث یاد وي نو وې لولئ. په موجودو کسانو کې هر کس یو یو حدیث ولوسته تر دې چې خبره د "خیبر حدیث" ته

ورسیده. پیغمبر(ص) د خیبر له یهودیانو سره په جنګ کې وفرمایل:

لا عْطِینَ الرایَه غدا... "سبا به زه بیرغ داسې کس ته ورکوم چې له خدایه او رسول سره مینه لري او خداي او رسول هم له هغه سره محبت کوي. داسې جنګیالی دی چې هیڅکله له جنګه نه تښتي، او له سباني جنګه به تر هغه وخته نه راستنیزي چې خداي پاک د هغه په لاس د یهودیانو کلا فتح کړي" سبا ته یې بیرغ (جنډا) حضرت علي (علیه السلام) ته ورکړه او هغه په ډیرې میړانتیا سره یهودیانو ته ماتې ورکړه او د خیبر کلا یې فتح کړه.

امام باقر علیه السلام عبدالله بن نافع ته وفرمایل: چې ددې حدیث په حقله څه وایې؟ هغه ویې: "حدیث سم او ریښتیا دی خو علي(ع) بیا ورسته کافر شو او خوارج یې په ناحقه ووژل" امام وفرمایل: مور دربادې کښینه، کله چې خداي د حضرت علي (علیه السلام) سره مینه لرله نو ورته پته وه چې علي(ع) به خوارج وژني او که نه؟ کهووایې چې خداي ته پته نه وه نو کافر یې. هغه وویل: خداي ته پته وه. امام وفرمایل: "خداي له هغه سره د فرمانبردارۍ په وجه مینه کوله که د نافرمانۍ او ګناه په وجه؟ هغه ویې د خداي حکم یې منلو ځکه ورسره خداي مینه لرله (یعني که په راتلونکي کې هم حضرت علي (علیه السلام) دومره لویه ګناه کوله خداي ته یې له مخکښې څخه پته وه او دومره مینه به یې ورسره نه

کوله نو له دې پته لګي چې د خوارجو وژل د خداي پاک اطاعت ؤ" بیا یې وفرمایل: که جواب درسره وي نو وو ایه؟ عبدالله وویل اوس راته حقیقت داسې څرګند شو لکه صادق صبحه له کاذبې او دروغژنې صبحې جدا کیږي، خداي پاک پخپله ښه پوهیږي چې خپل رسالت چاته ورکړي.

## د امام باقر (ع) په حکم پیسو باندې سکه وهل

د هجري کلونو په لومړۍ پیړۍ کې د کاغذ صنعت یوازې رومیانو ته زده ؤ اود مصر عیسایانو به له خپل مذهب سره سم په هغو باندې د "اب ابن او روح" (پلار ځوې ورح) مهر لګولو.

عبدلملک اموي ډیر چالاک سړی ؤ چې کله یې دا ډول کاغذ ولیدو نو مهر ته یې ځیر شو او حکم یې ورکړو چې د دې عربۍ ترجمه دې هغه ته وړاندې کړی شي. کله یې چې د هغې عربی ترجمه ولیده نو ډیر غصه شو چې ولې په مصر کې چې یو اسلامي هیواد دی په مصنوعاتو او سامانونو باندې داسې مهر لګیږي، د مصر ګورنر ته یې حکم ورکړو چې تر دې ورسته به په کاغذونو د توحید نعره یعنې "اَشْهَدُ ان لا اله الا الله" مهر کیږي او د اسلامي حکومت د نورو صوبو ګورنرانو ته یې هم حکم ورکړو چې هغه کاغذونه چې دعیسائیت مهر

او ټاپه پرې لګيدلې وي، ختم کړي او نوي کاغذونه استعمال کړي.

د کلمې په ټاپې سره نوي کاغذونه رواج شول او د روم ښارونو ته هم ورسيدل او قيصر ته يې خبر يوړو. هغه عبدالملک ته په يو ليک کې وليکل: د کاغذ صنعت تل په رومي ټاپې سره چليدو او که د دې د بنديز دا کار سم وي نو د اسلام نورو خليفه ګانو غلطي کړې ده او که هغوي په سمه وو نو تا غلطي کړې ده ما له دې ليک سره تا ته يوه قيمتي تحفه درولېږله او غواړم چې بيا هماغه زړه ټاپه جاري شي که داسې دې وکړل نو مونږ به دې مننذوي يو.

عبدالملک ډالۍ قبوله نه کړه او قاصد ته يې وويل چې د دې ليک ځواب نيشته. قيصر روم په دويم ځل دوه چنده ډالۍ راولېږله او ويې ليکل چې زما په خيال مخکې تحفه وړه وه ځکه دې قبوله نه کړه، دا ځل لويه تحفه درلېږم په دې هيله چې زما غوښتنه ومنې، عبدالملک بيا هم تحفه رد کړه او ليک ته يې ځواب ورنه کړ. قيصر په دريم ځل عبدالملک ته وليکل دا ځل درې برابره ډالۍ درلېږم او که په سامانونو باندې دې هغه زړه ټاپه جاري نه کړه نو حکم به ورکړم چې په سامانونو باندې داسې مهرونه او ټاپې ولګول شي چې ستاسو رسول(ص) ته پکې کنځل ليکلي شوي وي، تا ته پته ده چې د سکې اوټاپې وهل مونږ سره مخصوص دي. چې د پيغمبر(ص) د کنځلو ټاپه وګورې و له پښو به دې زمکه

وتښتي او سر تر پښو به په شرم کې ډوب شي، نو غوره دا ده چې زما هديه ومنې او خبره مې قبوله کړې چې اړيکې مو هماغه راز ټينګې پاتې شي.

عبدالملک ددې ليک په ځواب کې ډير عاجز او لاچاره شو او وې ويل: زما په خيال په اسلام کې به تر ټولو شرميدلی کس زه يم چې د خداي رسول ته د کنځلو او ناروا ويلو سبب شم نو ډيرې مشورې يې وکړې خو هيچا ورته سم ځواب ورنه کړو. يو کس ورته وويل چې تا ته پخپله ددې خبرې علاج معلوم دی خو ته يې نه کوې. عبدالملک وويل: ما ته هيڅ پته نشته چې څه وکړم. هغه کس ورته وويل چې له امام باقر عليه السلام د ځواب پوښتنه وکړه عبدالملک ومنله او د مدينې ګورنر ته يې وليکل چې امام باقر عليه السلام په ډير احترام سره راوليږه، د قيصر استازی هم په شام کې پاتې شو تر دې چې امام باقر عليه السلام شام ته ورسيد او له قيصې خبر شو.

امام وفرمايل: د خداي د رسول په حقله به د قيصر ګواښ هيڅکله عملي نشي او ددې علاج هم اسان دی، ټول صنعتګر راغونډ کړه چې سکه جوړه کړي په يو مخ يې د توحيد سورت اوپه بل مخ يې د پيغمبر(ص) نوم وليکي، چې له رومي سکو بې نيازه شو، د سکو د وزن په باره کې يې هم وضاحت وکړ چې د هرو لسو درهمو وزن د اوو مثقالو له درې ډوله سکو

څخه وي.[14] په کوم ښار کې چې سکه جوړېږي هغه ښار او کال نوم دې هم پرې وليکلې شي.

عبدالملک د امام حکم عملي کړو او ټولو اسلامي ښارونو ته يې وليکل چې په نوؤ سکو سره معاملې او لين دين پيل کړئ، له چا سره زړې سکې وي خزادې ته يې جمع کړئ او نوې سکې واخلئ، بيا يې د قيصر استازی له دې ټولې قيصې خبر کړو او ستون يې کړ. قيصر له دې قيصې خبر کړی شو او درباريانو ورته وويل چې خپل ګواښ عملي کړه خو قيصر وويل چې ما غوښتل چې عبدالملک غصه شي خو اوس زما دا کار چټي دی ځکه چې په اسلامي سيمو کې په رومي سکو معامله او لين دين نه کيږي.[15]

14. امام عليه السلام وفرمايل: درې ډوله سکه دې ووهلې شي. لومړی ډول هر درهم يو مثقال او لس درهم **10**مثقال، دويم ډول هر لس درهمه **6**مثقال او دريم ډول هر لس درهمه دې پنځه مثقال وي. په دې ترتيب د درې واړو ډولو هر ديرش درهمه **21** مثقاله شول او دا له رومي سکو سره برابر وو او د مسلمانانو ذمه واري وه چې ديرش درهم رومي چې **21**مثقال وو راوړي او ديرش نوي درهم واخلي.

15. المحاسن والمساوي بيهقي ج**2** ص**236-232** حيات الحيوان دميري ص**24**.

# دامام باقر علیه السلام اصحاب

د امام باقر العلوم علیه السلام په مکتب کې ډیرو بیلګه او ښو شاګردانو زده کړه کړې ده چې نومونه یې دا دي:

1 . ابان بن تعلب(رح):

چې د امام زین العابدین(ع) امام باقر(ع) او امام صادق(ع) شاګرد پاتې شوی او د خپلې زمانې یو علمي شخصیت ؤ، په تفسیر، حدیث، فقې، قرات او لغت کې یې ډیر مهارت درلود او دومره لویې عالم ؤ چې امام باقر(ع) د مدینې په جمات کې کښینولی ؤ چې خلقو ته د فتوو ځواب ورکوي. ابان به چې کله مدینې ته راغی نو نور درسونه به ټول خالي شول او د پیغمبر(ص) د خطاب ځاي به یې ده ته پریښودو.

2 . زراره(رح):

د امام باقر(ع) او امام صادق(ع) په اصحابو کې شپږ تنه لویې ګڼل شوي چې یو پکې زراره دی. امام صادق(ع) فرمایي: که برید بن معویه، ابو بصیر، محمد بن مسلم او زراره نه وی نو د پیغمبری ډیر اثار به له منځه تللي وو. دوي د خداي د حلالو او حرامو امانتدار دي. او یو بل ځایي کې فرمایي: برید، زراره، محمد بن مسلم، او احول په ژوند او مرګ کې ماته ډیر خواږه دي.

د زراره او امام دوستي هماغه راز باقي وه تر دې چې د امام جعفر صادق(ع) په زمانه کې امام مجبور شو چې د هغو د

سر د ساتلو لپاره ظاهراً د هغه عيبونه ووايي: او ورپسې بد ووايي او زراره ته يې وويل ته زمونږ په دوستۍ مشهور يې او څوک چې زمونږ دوستان وي، ازار ورته رسوي نو مونږ به په تا پسې بد وايو چې په حفاظت کې پاتې شي.

3 . کميت اسدي(رح):

لوي شاعر ؤ او د شاعرۍ په ژبه يې د اهلبيتو(ع) مدحه او تعريف کولو. شعرونه يې دومره ځپونکي او د دښمنانو رسوا کوونکې وو چې هر وخت به له اموي خليفه ګانو لخوا ګواښيدۀ. په هغه زمانه کې د اهلبيتو(ع) تعريف او د حقائقو وړاندې کول دومره سخت وو چې يوازې بهادرو او ميړانيو کسانو به دا کار کولو او کميت يو له هغو پياوړو څيرو څخه ؤ چې له اموي خليفه ګانو ونه ويريدۀ او تل يې د هغو پرتله کې د امامانو تعريف کولو. کميت په ځنو شعرونو کې رښتيني امامان د بني اميه وو په مقابله کې داسې معرفي کوي: هغه انصاف لرونکي مشران د بني اميه و په شان نه دي چې انسانان او څناور يو شان بولي هغوي د عبدالملک، وليد ، سليمان او هشام اموي په شان نه دي چې کله په ممبر کښيني نو داسې خبرې کوي چې پخپله پرې عمل نه کوي امويان د خداي د رسول(ص) خبري کوي خو پخپله د جاهليت د وخت کارونه کوي.[16]

---

16 . الشيعه والحاکمون ص**128**.

## 4 . محمد بن مسلم(رح):

د اهلبیتو(ع) فقیه او د امام باقر(ع) او د امام صادق(ع) له رښتینو ملګرو څخه ؤ. دې کوفي ؤ. له امامه د فیض اخستلو لپاره مدینې ته راغلی ؤ او څلور کاله هلته پاتې شو. عبدالله بن هعفور وایي: امام صادق(ع) ته مې وویل چې خلق له ما داسې پوښتنې کوي چې ځواب یې نه راځي او ته هم رانه لرې یې نو څه وکړم؟ امام ورته محمد بن مسلم وښودلو چې له هغهٔ پوښتنه کوه.

په کوفې کې یوه شپه یوه ښځه محمد بن مسلم ته ورغله او وې ویل انږور مې مړه شوې ده او په خېټه کې یې ژوندی بچې دی څه وکړو؟ محمد بن مسلم ورته وویل د امام صادق(ع) نه مې اوریدلي دي چې پکار ده د هغې خېټه وشلوئ او بچی ترې راوباسئ، بیا ښځه ښخه کړئ. له ښځې یې تپوس وکړو چې زهٔ دې څنګه پیدا کړم؟ ښځې وویل: دا مسئله مې امام ابو حنیفه ته یوړه هغه راته ووې چې زه پرې نه پوهیږم خو ته یې محمد بن مسلم ته یوسه او بیا یې له ځوابه ما هم خبر کړه.[17]

17 . رجال کشي ص**162**.

# د امام باقر(ع) شهادت

امام باقر(ع) د هجرت په **114**کال د ذي الحجې په اوومه نيټه په اوه پنځوس کلنۍ کې د ظالم اموي باچا هشام بن عبدالملک په وخت کې د هغه په ذريعه په زهرو زهرجن او شهيد شو. د شهادت په شپه يې امام صادق(ع) ته وفرمايل: زه به نن له دنيا ځم. اوس مې پلار وليدۀ چې ماته يې خوږ شربت راوړو چې ما وڅښلو او حق د ليدلو او بل پاتې جهان ته د تللو زيرى يې راکړو بله ورځ د علم د هغه لويې او ځپاند درياب جنازه د مدينې منورې د بقيع په اديرې کې د امام سجاد(ع) او امام حسن مجتبي(ع) د قبر په خوا خاورو ته وسپارل شوه. (د خداي سلام دې وي په هغۀ).

## د هغه مبارک ځنې اقوال دا دي

1. دروغ د ايمان خرابول دي.
2. مومن ويريدونکې، حريص او بخيل او کنجوس نه وي.
3. د دنيا حريص د ريښمو د چينجي په شان دى چې څومره ډير ريښم له ځانه تاوهي راوتل يې گرانيږي.
4. په مومنانو باندې طعنې او ټکونه نه دي کول پکار.

5. له خپل مسلمان ورور سره مینه ساته او څه چې ځان ته خوښوې هغه ته یې هم خوښوه او څه چې دې پخپله بدي او ناخوښ شي هغه ته یې هم مه خوښوه.
6. که یو مسلمان چا کره کتنې یا څه حاجت لپاره لاړ شي او کوربه ورته د ننوتلو اجازت ورنه کړي او پخپله هم ورته راونه ځي نو په دې کوربه خداي پاک تر هغه وخته لعنت کوي چې له یو بل سره کتنه وکړي.
7. خداي پاک حیا لرونکي او صبرناک خلق خوښوي.
8. څوک چې په خلقو غصه نه کوي خداي پاک پرې د قیامت په ورځ غصه نه کوي.
9. څوک چې ښو ته رابلل او له بدو منع کول نه کوي هغه ډیر بد خلق دي.
10. خداي پاک هغه کسان نه خوښوي چې دښمن یې په کور ورشي او هغه ورسره مقابله ونه کړي.

✡ ✡ ✡